د افغانستان اسلامي امارت
د کورنیو چارو وزارت
د پالیسی او استیراتیژۍ معینیت
د پلان او پالیسۍ عمومي ریاست
د پالیسیو ریاست

# د زرهي وسایطو لپاره د جوازونو د صادرولو کړنلاره

# طرزالعمل صدور جواز وسایط زرهی

پښتو او دری

د سند شمېره : ( ٤ )
د منظورۍ نېټه : ۱۴۰۰/۱۰/۲۲ هـ ش/ ۱۴۴۳-۶-۲ هـ ق
د پاڼو شمېر : ( ۳۶ )

# دمطالبو لړلیک


د مشرتابه حکم ........ ۳
لومړی څپرکی ........ ۷
عمومي حکمونه ........ ۷
بنسټ ........ ۷
موخې ........ ۷
د تطبیق ساحه ........ ۸
اصطلاحات ........ ۸
دوهم څپرکی ........ ۱۰
د کمیسیون ایجاد او د جواز صادرول : ........ ۱۰
د گومارل شوي کمېسیون مکلفیتونه: ........ ۱۱
د واردولو غوښتنلیک ........ ۱۱
د گرځېدلو د جواز صادرېدل ........ ۱۲
گټه اخیستونکي: ........ ۱۳
نصاب ........ ۱۵
د نصاب څخه اضافه غوښتنه ........ ۱۶
د جواز مشخصات ........ ۱۷
د گرځیدلو جواز د اخیستلو لپاره اړین اسناد ........ ۱۸
د گرځېدلو د جواز تمدید ........ ۱۸
د زرهي وسایطو کنترول ........ ۲۰
په سرحدونو کې د زرهي تجهیزاتو د قاچاق کنترول ........ ۲۰
د ترافیکو د اداري مکلفیتونه ........ ۲۰
د گټې اخیستونکو مسؤولیتونه ........ ۲۱
د زرهي وسایطو د گرځولو موخې ........ ۲۲
د زرهي واسطې د کارت ورکېدل او ویجاړېدل ........ ۲۳
د تضمین وړاندې کول ........ ۲۳


د افغانستان اسلامي امارت
کورنیو چارو وزارت
۱۴۴۳
د پالیسۍ او ستراتیژۍ معینیت

دريم څپرکی ........ ٢٤

د زرهي وسايطو کرايه ورکوونکي شرکتونه ........ ٢٤

د زرهي وسايطو کرايه ورکوونکو خدماتي شرکتونو رامنځته کېدل ........ ٢٤

د زرهي وسايطو د کرايه ورکوونکو شرکتونو د جوړولو حق الامتياز او شرطونه ........ ٢٥

د زرهي وسايطو ورکشاپونه ........ ٢٨

څلورم څپرکی ........ ٣٠

د نظامي کاروني وړ تکنالوژۍ واردول، مونتاژ(بسته بندي) او ورڅخه ګټه اخيستنه ........ ٣٠

د فعاليت جواز ........ ٣٠

د تکنالوژۍ د جواز صادرونکې مرجع مکلفيتونه ........ ٣١

د زرهي وسايطو د وارداتي شرکتونو مکلفيتونه ........ ٣٢

سکتوري وزارتونه ........ ٣٢

د ماين پاکی مؤسسې ........ ٣٣

پنځم څپرکی ........ ٣٣

متفرقه حکمونه ........ ٣٣

د نورو ادارو سره همغږي ........ ٣٣

عامه پوهاوی ........ ٣٣

نظامي پيچلي او پرمختللي توکي ........ ٣٤

اړيکې او خپرېدل ........ ٣٥

کنترول او څارنه ........ ٣٥

لوستل او بياکتنه ........ ٣٥

## د مشرتابه حکم

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی اشرف الانبیاء و المرسلین اما بعد :

د افغانستان د اسلامي امارت د کورنیو چارو وزارت په هیواد کې د داېمن امنیت د تامینولو ، د خلکو د حقوقو ساتنه،فردي آزادي او پانګونې د ملاتړ لپاره زیار باسي او په دې برخه کې خپلې ټولې هڅې او کوششونه سرته رسوي د کورنیوچارو وزارت په ټولنه کې د نظم او امنیت ټینګښت یقیني کولو، د جرمونو مخنیوی او د قانون د پلي کولو لپاره کوټلي او اغېزمن تدابیر نیسي . د زرهي وسایطو واردول ، مونتاژ (دسته بندي)، کرایه ورکول اودهغه څخه ګټه اخیستنه باید قانوني شي، ځکه په هېواد کې جنګي شرایط ، د سرحدونو خلاصون او په هوایي سرحدونو باندې د کنټرول نشتون د دې لامل شوی وو چې د هېواد د سرحدي پولو څخه زیات شمېر زرهي او ایمني وسایط هېواد ته په غیر قانوني توګه داخل شي او دغه وسایط د هېواد دننه د داخلي او بهرنیو مؤسسو او ادارو، مجرمو کړیو او د دښمنانو په واک کې لوېږي، چې ور څخه د سیاسي او ملي شخصیتونو په قاچاق، تښتولو ، ترور کولو او نورو جرمونو کې ورڅخه استفاده کېږي چې د هېواد د ښاریانو او د افغانستان اسلامي امارت د حکومت د اندېښنو سبب شوی.

## امر نخستین

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی اشرف الانبیاء و المرسلین اما بعد :

امارت اسلامی افغانستان جهت فراهم آوری شرایط صلح آمیز برای تمام اتباع کشور و تامین امنیت مطمئن، حفظ حقوق آزادی های فردی، اجتماعی و حمایت از سرمایه گذاری از هیچ نوع سعی وتلاش دریغ نورزیده. وزارت امور داخله منحیث مسؤل تامین امن و نظم عامه و تنفیذ قانون با اتخاذ تدابیر لازم جهت جلوگیری از هر نوع جرایم و اخلال امنیت در جامعه با تمام قوت و توان مبارزه می نماید و در جهت قانونمند سازی تورید، مونتاژ(بسته بندی) ،کرایه دهی و استفاده از وسایط زرهی که با استفاده از شرایط جنگی در کشور و باز بودن سرحدات و عدم کنترول لازم به سرحدات هوانی تعدادی زیادی از وسایط زرهی ایمنی به صورت غیر قانونی وارد افغانستان گردیده و بصورت پراگنده بدسترس افراد و اشخاص، موسسات و نهاد ها داخلی و خارجی و در بسا موارد مورد استفاده دشمن، باند های مجرمین قرارگرفته که از آن جهت قاچاق ، اختطاف، ترور شخصیت های ملی و سیاسی و انواع جرایم استفاده میگردد که موجب نگرانی حکومت امارت اسلامی افغانستان و شهروندان کشور گردیده است.

بناءً د زرهي وسايطو څخه د سالمې او قانوني ګټې اخيستلو لپاره دا پرېکړه وشوه چې يادشوي وسايط راټول او د هېواد د نافذه قوانينو په رڼا کې په شرايطو برابر ټولو استفاده کوونکو ته دافغانستان اسلامي امارت د کورنيو چارو وزارت لخوا جواز ووېشل شي، ترڅو د هېواد په داخل کې د زرهي وسايطو واردول، مونتاژ، ګرځېدل او ګټه اخيستنه قانوني وګرځي.

دکاري ډلې څخه دستاينې ترڅنګ ، حکم کوم چې داکړنلاره بغير د تاخير تطبيق کړي.

بناً به منظور استفاده درست و قانونمند از وسایط زرهی تصمیم بر آن شده تا وسایط مذکور انسجام و در روشنائی قوانین نا فذه کشور تحت استفاده صنوف واراکین واجد شرایط قرار گرفته که با توزیع مجوز از جانب وزارت اموردا خله امارت اسلامی افغانستان؛ سیر و حرکت، تردد، تورید، مونتاژ و استفاده آن در داخل کشور قانون مند می گردد.

ضمن قدردانی از گروپ کاری، این طرزالعمل به تطبیق آن بدون تاخیر حکم می نمایم.

و من الله التوفيق

الحاج ملا(خليفه) سراج الدين حقاني

د کورنيو چارو وزارت سرپرست

## سریزه

د افغانستان اسلامي امارت د کورنیو چارو وزارت په هېواد کې د امنیت اونظم ټینګولو ، انسان تښتونې او قاچاق مخنیوی، د جرمونو په وړاندې د مبارزې، نشه یي توکو له منځه وړلو او بالاخره د جرمي پېښو د کمولو او له منځه وړلو مسؤلیت په غاړه لري . د دې مسؤولیتونو په ښه توګه د سرته رسولو لپاره داپرېکړه وشوه چې د حقیقي او حکمي اشخاصو اجراآت او کړنې ، دولتي او غیر دولتي موسسات او په هېواد کې مېشت نړیوال سازمانونه او سیاسي نمایندګی چې د زرهي او ایمني وسایطو څخه ګټه اخیستنه ، واردول ، مونتاژ (بسته بندی) او نورو عصري او تکنالوژیکي وسایلو او تجهیزات چې په نظامي کارونه کې ورڅخه ګټه اخیستل کېږي، تنظیم کړي او دا کړنلاره د (**زرهي وسایطو او نظامي کارونې وړ معاصرو تکنالوژیکي د جوازونو صادرولو کړنلاره** ) تر عنوان لاندې ترتیب کړي ، هیله ده چې مسؤلین به د دې کړنلارې په عملي کولو کې خپل ایماني او وظیفوي مسؤولیتونه ترسره کړي .

## مقدمه

وزارت اموداخله امارت اسلامی افغانستان با درک مسؤولیت و مکلفیت های وظیفوی خویش مبنی بر تامین نظم وامن عامه، جلوگیری از اختطاف وقاچاق انسان، قاچاق مواد مخدر و در نهایت مبارزه مفید در امر کاهش وجلوگیری از وقوع جرایم در سطح کشور تصمیم برآن شد تا اجراآت و فعالیت های اشخاص حقیقی وحکمی، ادارات دولتی و غیر دولتی، نمایندهگی های سیاسی و سازمان های بین المللی مقیم کشور را پیرامون تورید، مونتاژ، کرایه دهی واستفاده از وسایط زرهی ایمنی وسایر وسایل وتجهیزات تکنالوژی معاصر که دارای کاربرد نظامی بوده، تنظیم و طرزالعمل را تحت نام (**طرزالعمل صدور جواز وسایط زرهی و تکنالوژی معاصر دارای کار برد نظامی**) ترتیب وتدوین نماید. توقع میرود تا مسؤولین درتطبیق این طرزالعمل وظایف ایمانی و وجدانی خویش را ادا نمایند.

په درنښت

د پالیسی او ستراتیژی معین

**د زرهي وسايطو او نظامي موخو د کارونې وړ معاصرې ټکنالوژۍ د جوازونو کړنلارې جوړولو کاري کمېټه**

۱. دکورنيو چارو وزارت د مقام د پالیسی او ستراتيژۍ مشاور مولوي شمس الدين منصور د کاري کمېټې رئیس په توګه.

۲. د تفتیش عمومي رئيس مولوي سلطان محمد مفکر د کاري..........................کمېټې دغړي په توګه.

۳. د پلان او پالیسی عمومي رئيس مفتي فضل هادي سالک د کاري..................کمېټې دغړي په توګه.

٤. د پالیسي رئيس مفتي محمد طیب حقاني د کاري.....................................کمېټې دغړي په توګه.

٥. د څارنې او ارزونې مدیر سمونوال سید ذاکر هاشمي د کاري .........................کمېټې دغړي په توګه.

٦. د سازماني پالیسیو د پراختيا مدير سمونوال نورعلي احمدزی د کاري.............کمېټې دغړي په توګه.

۷. د قانون د تنفيذ د پالیسیو مدیر سمونوال غلام حیدر سلطاني د کاري........... ...کمېټې دغړي په توګه

۸. د عامه خدمتونو د پالیسیو مدير محمدحسين علميار د کاري.........................کمېټې دغړي په توګه.

۹. د پالیسیو د تدقیق او ترجمې مسؤل سمونمل اجمل وزیري د کاري...............کمېټې دغړي په توګه.

۱۰. د زرهي او امنيتي کمپنيو مدير عزيزالرحمن حاتمي د کاري.........................کمېټې دغړي په توګه.

## لومړی څپرکی

### عمومي حکمونه

**بنسټ**

**لومړی مادهٔ :**

دا کړنلاره د افغانستان اسلامي امارت د کورنیو چارو وزارت د مقام د (۸۵۹) گڼې او ۱۴۰۰/۸/۲۹هـ ش نېټې مکتوب پر بنسټ ترتیب اوتدوین شوې ده .

**موخې**

**دویمه مادهٔ :**

۱- دایمني زرهي وسایطو د واردولو ، اخیستلو ، خرڅولو او گټې اخیستنې د چارو تنظیمول .
۲- د زرهي ایمني وسایطو د گرځېدلو راگرځېدلو قانوني کول .

۳- د زرهي وسایطو کرایه ورکوونکو او مونتاژ (بسته بندی ) وړاندې کوونکو خدماتي شرکتونو ته په جلا جلا توگه د جوازونو ورکول .
۴- د پولیسو له لوري د زرهي ایمني وسایطو او زرهي وسایلو د خدماتو وړاندې کوونکو شرکتونو د چارو څارنه او کنترول .
۵- د امنیت او نظم د خرابېدلو اونورو جرایمو مخنیوی کول .
۶- د پانگوڅخه ساتنه ، د هېواد د اقتصادي ودې او خصوصي پانگوالی لپاره د مناسبو شرایطو برابرول .

## فصل اول

### احکام عمومی

**مبنی**

**مادهٔ اول:**

این طرزالعمل به اساس مکتوب شماره (۸۵۹) مؤرخ ۱٤۰۰/۸/۲۹ مقام وزارت اموداخله امارت اسلامی افغانستان ترتیب وتدوین گردیده است.

**هدف**

**مادهٔ دوم:**

۱. تنظیم امور مربوط به تورید، خرید، فروش و استفاده از وسایط زرهی ایمنی.
۲. قانونمند سازی تردد و گشت و گذار وسایط زرهی ایمنی.

۳. صدور جواز فعالیت جداگانه به شرکت های عرضه کننده خدمات کرایه دهی وسایط زرهی و مونتاژ (بسته بندی)
۴. نظارت و کنترول پولیس از فعالیت های وسایط زرهی ایمنی و شرکت های عرضه کننده خدمات وسایط زرهی.
۵. جلوگیری از اخلال امن و نظم عامه و سایر جرایم.
٦. نگهداری از سرمایه ها به منظور بهبود و ایجاد شرایط مناسب برای رشد اقتصاد و سرمایه گذاری خصوصی.

## د تطبيق ساحه

**دریمه مادهٔ :**

دا کړنلاره په ټول هېواد کې په( حقيقي او حکمي) اشخاصو ، دولتي او غيردولتي ادارو ، مؤسساتو او نړيوالې ټولنې په ټولو بنسټونو چې زرهي وسايط واردوي، اخلي او خرڅوي يې ، په کرايه يې ورکوي او يا ګټه ورڅخه اخلي، په هغوی ټولو باندې د تطبيق وړ ده .

## اصطلاحات

**څلورمه مادهٔ :**

**د فعاليت جواز :** ليکلی سند دی چې د دې کړنلارې د احکامو مطابق د زرهي وسايطو د واردولو ، پېر او پلور، کرايه ورکولو او ګټې اخيستنې لپاره صادرېږي .

**د ګرځېدلو جواز :** ليکلی سند دی چې په مرکز او ولاياتو کې د دې کړنلارې د معيارونو په رڼا کې د کورنيو چارو وزارت لخوا د زرهي وسايطو د ګرځېدلو لپاره صادرېږي .

**زرهي ايمني (محافظتي) وسايط :** د هغو زرهي وسايطو څخه عبارت دي چې د شيشو په ګډون ټول وسايط د وړو وسلو دعادي ګوليو ضد وي .

**ځانګړي زرهي وسايط :** هغه وسايط دي چې په ځانګړي ډول د زندانيانو د وړلو ، بانکونو لخوا د فزيکي پيسو د لېږد او ماينونو د پاکولو لپاره ورڅخه کار اخيستل کېږي .

## ساحه تطبيق

**مادهٔ سوم:**

این طرزالعمل بالای تمام اشخاص (حقیقی و حکمی)، ادارات و موسسات دولتی وغیر دولتی و سازمان های بین المللی در سراسر کشور که وسایط زرهی را تورید، خرید وفروش، کرایه و استفاده می نمایند، قابل تطبیق میباشد.

## اصطلاحات

**مادهٔ چهارم:**

**جواز فعالیت:** سند کتبی است که درخصوص تورید، خرید وفروش، کرایه و استفاده از وسایط زرهی، مطابق احکام این طرز العمل صادر می گردد.

**جواز گشت وگذار:** سند کتبی است که به منظور گشت وگذار وسایط زرهی در مرکز و ولایات بادرنظر داشت معیار های تعین شده این طرزالعمل، از جانب وزارت اموراخله توزیع میگردد.

**وسایط زرهی ایمنی(محافظتی):** عبارت از وسایط زرهی اند که بشمول شیشه های آن، ضد گلوله عادی سلاح های خفیفه می باشند.

**وسایط مخصوص زرهی:** عبارت از وسایط میباشند که مشخصاً غرض انتقال محبوسین، انتقال پول فزیکی بانک ها و در تطهیر ماین ها مورد استفاده قرار میگیرند.

**محاربوي(جنګي) زرهي وسایط :** هغه وسایط دي چې یوازې وسله وال قوتونه (دفاع وزارت ، کورنیو چارو وزارت ، استخباراتو ریاست ) ورڅخه ګټه اخلي . حقیقي او حکمي اشخاص د هغوی د واردولو ، پېر او پلور ، کرایه ورکولو او ګټې اخیستنې حق نه لري .

**زرهي عینیات او تجهیزات :** هغه عینیات او تجهیزات ورپکې شامل دي چې د هغوی په جوړولو کې د ګټې اخیستونکي د ساتنې لپاره زرهي مواد کارول شوي وي.

لکه: زرهي فرش، زرهي شیشې ، زرهي واسکټ او خولۍ ، زرهي دروازه ، د ماین پاکۍ زرهي الې او داسې نور

**د نظامي کارونې وړ پېچلي او پرمختللي معاصر تکنالوژیکي وسایل او تجهیزات:**

د هغو عینیاتو او تجهیزاتو څخه عبارت دي چې د اړتیا پر مهال ورڅخه د امنیتي ، نظامي او تخنیکي اسانتیاوو په برابرولو کې مثبته ګټه اخیستل کېږي مګر په عین وخت کې د ناوړه ګټې اخیستنې لپاره هم یکار راتلای شي او امنیتي ګواښونه پېښولای شي چې د اوبو لاندې لید دوربینونه ، د (۴۵۰) یا اضافه فریکونسي-لرونکې معاصرې مخابرې، د شپې لخوا د لید دوربینونه ، جمر ، د اورېدلو کشفوونکي وسایل او د لوړو او متوسطو فریکونسیو مخابرې ورپکې شاملې دي.

**وسایط زرهی محاربوی:** عبارت از وسایط میباشند که صرف قوای مسلح ( وزارت دفاع، وزارت اموراخله و ریاست عمومی استخبارات) از آن استفاده به عمل می آورند. اشخاص حقیقی و حکمی حق تورید، خرید و فروش، کرایه و استفاده آنرا ندارند.

**عینیات و تجهیزات زرهی:** آنعده عینیات و تجهیزات را شامل می گردد که در ساخت و تولید آن از مواد زره به منظور محافظت و امنیت استفاده کننده به کار رفته باشد.

مانند: فرش زره، شیشه زره، واسکت و کلاه زره، دروازه زره، آلات ماین پاکی زرهی و امثال آن.

**وسایل وتجهیزات مغلق و انکشاف یافته تکنالوژی معاصر دارای کاربرد نظامی:**

عبارت از عینیات وتجهیزات اند که عندالضرورت حایز کاربرد مثبت امنیتی، نظامی، تخنیکی وتسهیلاتی بوده اما در عین زمان با سوء استفاده از آن تهدید و نگرانی های امنیتی را ایجاد می نماید. که شامل عینیات چون دوربین های زیرآبی، آلات مخابروی معاصرکه با داشتن فریکونسی های(٤٥٠) و یا اضافه تر از آن، دوربین های شب بین، جمر، استراق سمع وانواع مخابره های دارای فریکونسی متوسط وبلند، و سایر تجهیزات دارای کار برد نظامی باشد.

د افغانستان اسلامي امارت
د کورنیو چارو وزارت
د پالیسي و ستراتیژۍ معینیت

**معاصر وسايل او تجهيزات:** د هغو عينياتو او تجهيزاتو څخه عبارت دي چې د اړتيا پر مهال ورڅخه په مثبتو امنيتي کړنو کې ګټه اخيستل کېږي لکه امنيتي کامرې، د الوتلو وړ کامرې، جي پي اس او هر هغه ډول مخابرې چې د (۴۵۰) څخه ټيټې فريکونسي لري.

## دوهم څپرکی

**د زرهي وسايطو واردول، پېرل او پلورل، ګرځېدلو جوازونه، ګټه اخيستنه او مونتاژ (بسته بندي) او دکميسيون منځته راوړل**

### د کميسيون ايجاد او د جواز صادرول :

**پنځمه مادهٔ:**

د جواز صادرولو کميسيون د جنايي جرمونو پر وړاندې د مبارزې عمومي رياست د رئيس په مشرۍ د لاندې ترکيب څخه رامنځته کېږي :

- د داخلي امنيت د عمومي رياست باصلاحيته استازی، د غړي په توګه .
- د اسلامي امارت ضد فعاليتونو سره د مبارزې د رياست باصلاحيته استازی، د غړي په توګه .
- د ترافيکو د عمومي رياست باصلاحيته استازی، د غړي په توګه .
- د ډاياک عمومي مدير، د غړي په توګه .
- د زرهي وسايطو مدير د کميسيون سکرتريت په غاړه لري .

- د زرهي وسايطو د واردولو، پېر او پلور، په کرايه ورکولو او ګرځېدلو جواز يوازې د کورنيو چارو وزارت د جرايمو پر وړاندې د مبارزې د

**وسايل وتجهيزات معاصر:** عبارت از عينيات وتجهيزات اند که عندالضرورت حايز کاربرد مثبت امنيتی می باشند مانند(کمره های امنيتی، کمره های قابل پرواز، جی پی اس، انواع مخابره که فريکونسی ان پاينتر از (٤٥٠) باشد.

## فصل دوم

**شرايط توريد، خريد و فروش، مجوز گردش، استفاده ومونتاژ (بسته بندی) وسايط زرهی ايجاد کميسيون وصدور مجوز**

### ايجاد کميسيون وصدور مجوز

**مادهٔ پنجم:**

کميسيون صدور جواز تحت رياست رئيس عمومی کشف ومبارزه با جرايم به ترکيب ذيل ايجاد ميگردد:

- نماينده با صلاحيت رياست عمومی امنيت داخلی بحيث عضو.
- نماينده با صلاحيت رياست مبارزه عليه فعاليت های ضد امارت اسلامی بحيث عضو.
- نماينده با صلاحيت رياست عمومی ترافيک بحيث عضو.
- مدير عمومی داياک بحيث عضو
- مدير ثبت وسايط زرهی سکرتريت کميسيون را عهده دار می باشد.

صدور مجوز به منظور توريد، خريد وفروش، کرايه و گردش از وسايط زرهی صرف از طريق

عمـومي ریاسـت لـه لارې د گومـارل شـوي کمیسیون پـه تائیـد او د کورنیـو چـارو وزیـر لـه منظورۍ وروسته ورکول کېږي .

## د گومارل شوي کمېسیون مکلفیتونه:

- د مرکز او ولایتونو په کچه د زرهـي وسـایطو د واردولـو او گټـې اخیسـتنې جوازونـو د ورکولـو تائیـدول چـې د کورنیـو چـارو د وزیـر لخـوا منظورېږي .

- گومـارل شـوی کمیسـیون مکلـف دی چـې د زرهي وسایطو د جواز اخیستلو لپاره ټول راغـلي اسناد په دقیقه توگه وگوري ، په هغه صورت کې چـې د قـانون او د دې کـړنلارې د مفـاداتو سره مغایرت ونه لـري هغـه تائیـدوي او کـه مغـایرت ولري نو په مسؤلانه ډول یې د ردولو پرېکړه کوي .

## د واردولو غوښتنلیک

**شپږمه مادهٔ :**

حقیقـي او حکمـي اشـخاص بایـد د زرهـي وسایطو واردولو مکتوب یـا غوښـتنلیک چـې د واسطې ټول مشخصات پکې ذکر شـوي وي، د پېرلو د اسنادو او کورنیو چارو وزارت د مـوافقې په ملتیا اړوندو مراجعـو ( مـالیې وزارت ، بهرنیـو چـارو وزارت ، مـلي دفـاع وزارت ، اسـتخباراتو عمومي ریاست او ترافیکو عمومي ریاست ) تـه د لازمواجراتو لپاره وړاندې کړي .

ریاست عمومی کشف ومبارزه با جـرایم وزارت اموداخلـه بعـد از تائیـد کمیسـیون مؤظـف و منظوری مقام وزارت صورت می گیرد.

## مکلفیت های کمیسیون موظف:

- تائیـد صـدور جـواز بـرای توریـد واسـتفاده از موترهـای زرهـی درمرکـز وولایـات از صـلاحیت کمیسـیون موظـف مرکـزی ازجانـب وزیـر امـور داخله منظور می‌شود.

- کمیسیون موظف، مکلف اسـت، سـایر اسـنادی که مبنی بر اخذ مجـوز وسـایط زرهـی مواصـلت مینماید بصورت دقیق بررسی نموده درصـورتیکه باقوانین وطرزالعمـل هـذا مغـایرت نداشـته باشـد تاییـد درغیـرآن درمـورد اسـترداد آن تصـامیم خویش را باکسب مسؤولیت اتخاذ نمایند.

## درخواست توريد

**مادهٔ ششم:**

اشخاص حقیقی و حکمی بـا ارائـه مکتـوب یـا درخواسـت و سـند خریـداری مبنـی بـر توریـد وسایط زرهی که شامل تمام مشخصـات واسـطه مورد نظر بعد از ابراز موافقه وزارت امـور داخلـه بـه مراجـع مربـوط (وزارت هـای مالیـه، امـور خارجه، دفاع ملی، ریاست عمومی اسـتخبارات، ریاسـت عمـومی ترافیـک) غـرض اجـراآت مقتضی میگردد

## د ګرځېدلو د جواز صادرېدل

**اوومه مادهٔ :**

۱- د زرهي ایمني وسایطو د ګرځولو د جواز غوښتونکی ، د کورنیو چارو وزارت د عامه خدمتونو د ریاست او یا کورنیو چارو وزارت د ویب پاڼې (www.moi.org.af) څخه د جواز اخیستلو د پړاوونو د سرته رسولو فورم (cos-۰۱۲) ترلاسه او طی مراحل کړي .

۲- د ګرځېدلو د جواز د اخیستلو لپاره د شرکت د جواز رنګه کاپي، د جواز غوښتونکي او ضامن تذکیرې ، د ګرځېدلو سجل ، د زرهي وسایطو مخامخ ۴۵ درجې رنګه انځور ، د غوښتونکي دوه قطعې انځورونه یا د شرکت لوګو ضروري دي .

۳- هغو زرهي وسایطو ته د ګرځېدلو جواز نه ورکول کېږي چې د کورنیو چارو وزارت د ترافیکو ریاست لخوا ورته اسناد لکه جواز سیر، پلېټ او نور ... نه وي ورکړل شوي .

۴- د پورتنیو پړاوونو د بشپړیدلو څخه وروسته د ګرځېدلو د جواز غوښتونکي، د اسلامي امارت د رسمي ادارو پرته ، نور ټول د جواز د فیس په ورکولو مکلف دی .

## صدور جواز گردش

**مادهٔ هفتم:**

۱. متقاضی جهت اخذ جواز گردش وسایط زرهی ایمنی فورم درخواست گردش واسطه زرهی فورم نمبر(COS-۰۱۲ ) را از ریاست خدمات عامه وزارت امور داخله یا از سایت انترنیتی (www.moi.org.af) اخذ و طی مراحل نماید.

۲. جهت طی مراحل اخذ جواز گردش، کاپی رنگه جواز شرکت، تذکره متقاضی و تضمین کننده، جواز سیر یا سجل، عکس رنگه روبرو و ۴۵ درجه واسطه زرهی، دو قطعه عکس متقاضی و یا لوگوی شرکت لازمی می باشد.

۳. اسناد ترافیکی بشمول جواز سیر، پلیت و سایر اسناد مربوط از جانب ریاست ترافیک وزارت امور داخله طی مراحل گردیده و به وسایط که چنین اسناد را نداشته باشند. جواز گردش صادر نمی گردد.

۴. بعد از تکمیل مراتب فوق، متقاضیان جواز گردش، مکلف به پرداخت فیس امتیاز جواز گردش به استثنای ادارات رسمی امارت اسلامی افغانستان می باشند.

۵- د زرهي وسايطو د ګرځېدلو جواز د اعتبار موده دوه کاله ده چې غوښتونکي يې د افغانستان بانک له لارې د دولت حساب ته په لاندې توګه د فيسونو په ورکولو مکلف دي :

- بهرني مؤسسات في عراده مبلغ يو لک او شل زره افغانۍ .

- کورني شرکتونه او مؤسسې في عراده شپيته زره افغانۍ .

- زرهي کرايه ورکونکي شرکتونه في عراده اتيا زره افغانۍ .

۶- د اسلامي امارت هغه زرهي وسايط چې رسمي اسناد او سجل ولري د فيس ورکولو څخه معاف دي .

۷- د جواز صادرول يا تمديدول د مالياتي حسابونو د تصفيې څخه وروسته اجراء کېږي .

## ګټه اخيستونکي:

**اتمه مادهٔ :**

هغه اشخاص، دولتي او غير دولتي بنسټونه چې د امنيتي ملحوظاتو په موخه د زرهي وسايطو څخه د دې کړنلارې مطابق ګټه اخيستلای شي:

۱- د افغانستان د اسلامي امارت د مشرتابه شورا غړي .

۵. مدت اعتبار کارت جواز گردش وسایط زرهی برای دو سال بوده و متقاضیان مکلف به پرداخت فیس ذیل به حساب واردات امارت اسلامی تحویل د افغانستان بانک می باشند.

- موسسات خارجی مبلغ یکصد و بیست هزار افغانی في عراده؛

- موسسات و شرکت های داخلی مبلغ شصت هزار افغانی في عراده؛

-شرکت های کرایه دهی وسایط زرهی مبلغ هشتاد هزار افغانی فی عراده؛

٦. وسایط زرهی امارت اسلامی که دارای سجل و اسناد رسمی باشد تابع پرداخت فیس نمی گردد.

۷. صدور و تمدید جواز بعداز تصفیه مالیات اجرا می گردد.

## استفاده کننده گان

**مادهٔ هشتم:**

اشخاص و نهاد های دولتی وغیر دولتی که می‌توانند از وسایط زرهی به منظور تامین امنیت خویش مطابق به احکام این طرزالعمل استفاده نمایند:

۱ اعضای شورای رهبری امارت اسلامی افغانستان.

۲- د اسلامي امارت لوړ رتبه چارواکي (وزیران، معینان ، د خپلواکو ادارو عمومي رئیسان ، د سترې محکمې د عالي شورا غړي ، لوی څارنوال ، د ادارو عمومي رئیسان ، د اړوندو ادارو د تائید څخه وروسته والیان او د ولایتونو امنیه قوماندانان).

۳- د دوستو هېوادونو دیپلوماتیکي مراجع .

۴- د قانوني فعالیتونو د جوازونو درلودونکي کورني او بهرني شرکتونه او پانګوال .

۵- ملي شخصیتونه، دیني علماء او قومي مشران.

٦- برحاله جنرالان دمشرتابه د لزوم دید له مخې.

۷- د ملګرو ملتونو اداري دفترونه، ملي او نړیوال خیریه بنسټونه د بهرنیو چارو وزارت یا د اقتصاد وزارت په تائید.

۸- د دفاع وزارت، کورنیو چارو وزارت او استخباراتو عمومي ریاست په دې برخه کې د خپلو مقرراتو تابع دي .

۹- نور هغه افراد چې د امنیتي ګواښونوسره مخ وي او امنیتي ستونزې یې د کورنیو چارو وزارت او یا استخباراتو عمومي ریاست د کشفي ارګانونوله اړخه تائید شوي وي .

۱۰- سترو جرمي سوابقو درلودل، د زرهي وسایطو غوښتونکو لپاره یې دجواز صادرول مانع ګرځي .

۲. اراکین عالی رتبه امارت اسلامی افغانستان (وزرأ، معینان، رؤسای عمومی مستقل، اعضای شورای عالی ستره محکمه لوی څارنوال، رؤسای عمومی ادارات، والیان وقوماندانان امنیه ولایات به تائید ادارات مربوط).

۳. مراجع دیپلوماتیک دول متحابه مقیم کشور.

٤. شرکت ها و سرمایه گذاران داخلی و خارجی دارای جواز فعالیت قانونی.

۵. شخصیت های ملی، دینی و سران اقوام.

٦ – جنرالان برحال حسب لزوم دید مقام عالی.

۷. مؤسسات و دفاتر ملل متحد، موسسات خیریه ملی و بین المللی به تائید وزارت امورخارجه یا وزارت اقتصاد.

۸. وزارت های دفاع ملی، امور داخله و ریاست عمومی استخبارات تابع مقررات خویش می باشند.

۹. سایر اشخاص حقیقی و حکمی که حیات شان مورد تهدید جدی امنیتی قرارداشته باشد، وچگونگی تهدید شان ازجانب ارگان های کشفی (وزارت امور داخله و یا ریاست عمومی استخبارات) تایید گردیده باشد.

۱۰. داشتن سوابق جرایم سنگین مانع صدور جواز برای متقاضیان وسایط زرهی می گردد.

## نصاب

**نهمه مادۀ :**

په دې کړنلاره کې د راغلو شرایطو د پوره کولو په صورت کې ، غوښتونکو ته د لاندې نصاب مطابق د زرهي وسایطو جوازونه ورکول کېږي :

۱- د اسلامي امارت د اداراتو لوړ رتبه مامورین .

- د وظیفوي موقف او د اداري تقاضاوو ته په کتلو سره د فوق رتبه لپاره د (۱) څخه تر (۲) عرادې .
- لومړی او دویم بستونو ته (۱) عراده .

۲- د اسلامي امارت د مشرتابه شورا د غړو لپاره د دندې درلودلو یا نه درلودلو پر مهال دواړو حالاتو کې (۱) عراده .

۳- په هېواد کې مېشتې دیپلوماتیکې مراجع او خیریه مؤسسې د بهرنیو چارو یا اقتصاد وزارتونو او نورو اړوندو ادارو له لارې د خپلو اړتیا وړ زرهي وسایطو لپاره د ګرځېدلو د جوازونو غوښتنه کوي .

۴- د فعالیتونو د قانوني جوازونو درلودونکي کورني او بهرني شرکتونه او سرمایه ګذاران د مالیاتي حسابونو د تصفیې څخه وروسته په لاندې توګه د زرهي وسایطو جوازونه لاسته راوړي :

## نصاب

**مادۀ نهم:**

با اکمال شرایط مندرج این طرزالعمل برای متقاضیان با درنظر داشت نصاب ذیل؛ جواز گردش وسایط زرهی صادر می‌گردد:

۱. مامورین عالی رتبه ادارات امارت اسلامی:

- فوق رتبه به اساس موقف و تقاضای ادارهٔ مربوط (۱) الی (۲) عراده؛

- بست اول و بست دو (۱) عراده.

۲. اعضای شورای رهبری امارت اسلامی در اثنای تصدی وظیفه و یا بازنشستگی جواز گردش (۱) عراده.

۳. مراجع دیپلوماتیک و مؤسسات خیریه بین المللی مقیم کشور جواز گردش وسایط زرهی مورد نیاز شان را از طریق وزارت امورخارجه، وزارت اقتصاد و ادارات ذیربط مطالبه نمایند.

٤. شرکت ها و سرمایه گذاران داخلی و خارجی دارای جواز فعالیت قانونی بعد از تصفیه حسابات مالیاتی بطور ذیل:

۱- ستره ماليه ورکوونکي ، رئيس (۲) عرادې، مرستيال يې (۱) عراده .

۲- متوسطه ماليه ورکوونکي، رئيس (۱) عراده، مرستيال يې (۱) عراده .

۳- کوچني ماليات ورکوونکي ، د جواز مطابق (۱) عراده.

٤- د هيواد مخکښ مشران او ملي او ديني شخصيتونه (۱) عراده.

۵- هغه خصوصي بانکونه چې د پيسو د ليږد لپاره د زرهي وسايطو څخه ګټې اخيستنې ته اړتيا ولري ، د افغانستان بانک د تائيد پر بنسټ او د دې کړنلارې د حکمونو مطابق، کولای شي چې د خپلو اړتياوو وړ وسايط وارد کړي او ګټه ځينې واخلي ، مګر د بانک کارکوونکي په هيڅ صورت نه شي کولای چې د دغو وسايطو څخه په سفرونو او ګرځيدلو کې استفاده وکړي .

٦- حقيقي اوحکمي شخصيتونه د خپلو اړتياوو پر بنياد او د کشفي ارګانونو لخوا د امنيتي ګواښونو د تصديق د وړاندې کولو پر بنسټ (۱) عراده .

## د نصاب څخه اضافه غوښتنه

**لسمه مادهٔ :**

کــه چېـرې د زرهـي وسـايطو د جوازونـو غوښـتونکي د دې کـړنلارې د نصـاب څخـه اضافه جوازونه غواړي نو کولای شي چې خپله غوښتنليک د کورنيو چارو وزارت ته پېشنهاد کړي . د وزارت د مقام د حکم سره سم ورته اضافي جوازونه ورکول کېږي .

۱ - ماليه دهندگان بزرگ (۲) عراده، معاون (۱) عراده.

۲- ماليه دهندگان متوسط: رئيس (۱) عراده و معاون (۱) عراده.

۳- ماليه دهندگان کوچک مطابق به جواز فعاليت (۱) عراده.

٤- سران مطرح کشور، شخصيت های ملی و دينی (۱)عراده.

۵- بانک های خصوصی که ضرورت استفاده از وسايط زرهی اختصاصی را غرض انتقال پول داشته باشند، با تصديق اداره د افغانستان بانک و مطابق به احکام اين طرزالعمل می‌توانند وسايط مورد نياز را توريد و مورد استفاده قرار دهند و از وسايط زرهی اختصاصی بانک ها هيچ گاه کارکنان بانک جهت سير وسفر استفاده کرده نمی توانند.

٦. اشخاص حقيقی و حکمی بنابر ضرورت شان بعد از ارائه تصديق رسمی تهديدات شان از ادارات معتبر کشفی (۱) عراده

## تقاضای بالاتر از نصاب

**مادۀ دهم:**

هرگاه متقاضيان مندرج فوق تقاضای صدور مجوز گردش وسايط زرهی بيشتر از نصاب تعين شدۀ اين طرزالعمل را داشته باشند، بعد از ارائه پيشنهاد کتبی و اخذ هدايت مقام وزارت اموراداخله برای شان جواز صادرمی گردد.

## د جواز مشخصات

**یوولسمه مادهٔ :**

د گرځیدلو جواز د لاندې نښو او مشخصاتو لرونکی وي :

۱- د واسطې د امتیاز د څښتن (مؤسسه / شرکت ) پېژندنه

۲- د واسطې ډول .

۳- د غوښتونکي انځور .

۴- لوگو .

۵- د واسطې انځور .

٦- د پلیټ شمېره .

۷- د انجن شمېره .

۸. نمبر شاسی.

۹. مودل.

۱۰. رنگ.

۱۱. بار کود مخصوص.

۱۲ د کرایه ورکولو د مجاز یا غیر مجاز عبارت ذکر کول .

## مشخصات جواز

**مادهٔ یازدهم:**

مجوز گردش دارای علایم و مشخصات ذیل می‌باشد:

۱. شهرت صاحب امتیاز واسطه/ موسسه یا شرکت؛

۲. نوع واسطه؛

۳. عکس متقاضی؛

۴. لوگو

۵. عکس واسطه؛

٦.نمبر پلیت؛

۷.نمبر انجن؛

۸. نمبر شاسی؛

۹. مودل؛

۱۰. رنگ؛

۱۱. بار کود مخصوص.

۱۲. ذکر عبارت مجاز ویاغیر مجاز برای کرایه دهی.

## د ګرځېدلو جواز د اخیستلو لپاره اړین اسناد

**دولسمه مادهٔ :**

د زرهي وسایطو د ګرځېدلو د جواز د صادرېدلو لپاره لاندې اسناد اړین دي :

۱- د ګرځېدلو قانوني سند ( جواز سیر یا د اسلامي امارت د ادارو سجل )

۲- د مالک د تذکیرې رنګه کاپي .

۳- د ضامن د هویت د کارت رنګه کاپي (کم ترکمه پنځمه رتبه مامور یا دهغې معادل نظامي بست سمونیار / جګړن)

۴- د شخص یا شرکت په نوم د واسطې د مالکیت سند .

۵- د غوښتونکي او ضامن د سپینې بیګراونډ ۳/۴ مخامخ اخیستل شوي تصویرونه .

٦- د ښي یا چپ لوري مخامخ ۴۵ درجې د زرهي واسطې اخیستل شوی انځور چې نمبر پلیټ او د شرکت لوګو پکې ښکاره وي .

## د ګرځېدلو د جواز تمدید

**دیارلسمه مادهٔ :**

۱- ګټه اخیستونکی مکلف دی چې د جواز د اعتبار د پای ته رسېدلو نېټې څخه شل ورځې تر مخه د جواز د تمدیدولو لپاره اړوندې ادارې ته مراجعه وکړي .

۲- که د جواز د اعتبار پر موده یوه میاشت تیره شي او غوښتونکی خپل جواز تمدید نه کړي، جواز یې ملغی کېږي.

## اسناد لازمی برای اخذ جواز گردش

**مادهٔ دوازدهم:**

اسناد ذیل برای صدور مجوز گردش وسایط زرهی لازمی پنداشته می‌شود:

۱. سند قانونی گردش (جواز السیر یاسجل ادارات امارت اسلامی افغانستان)؛

۲. کاپی رنگه تذکره تابعیت متصرف؛

۳. کاپی رنگه کارت هویت ضامن حداقل رتبه (۵) ملکی یا معادل آن به نظامی (سمونیار / جگرن).

۴. سند مالکیت واسطه نقلیه به اسم شخص و یا شرکت.

۵. عکس رنگه۳/٤رو به رو متقاضی و ضامن با پس زمینه سفید.

٦. عکس رنگه روبه رو و ( ۴۵) درجه به طرف راست و یا چپ واسطه زرهی با نمبر پلیت و لوگوی شرکت.

## تمدید مجوز گردش

**مادهٔ سیزدهم:**

۱. استفاده کننده مکلف است بیست یوم قبل ازتکمیل میعاد ختم مجوز جهت تمدید مجوز گردش واسطه به اداره مربوط مراجعه نماید.

۲. در صورتی که از میعاد جواز گردش مدت یکماه سپری گردد، وجواز را تجدید نکرده باشد، جواز آن ملغی می گردد.

**څوارلسمه مادهٔ :**

۱- هغه زرهي وسایط چې د کورنیو چارو وزارت له اجازې پرته وارد شوي وي او په گمرکاتو کې د اسنادو د مراحلو طی کولو په پړاو کې وي، کورني شرکتونه یې د یو لک (۱۰۰،۰۰۰) افغانیو او بهرني وارداتي شرکتونه یې د دوه لکه (۲۰۰،۰۰۰) افغانیو په ورکولو مکلف دي چې د کورنیو چارو وزارت بانکي حساب ته یې باید تحویل کړي .

۲- هغه زرهي وسایط چې په غیر قانوني (یوکیلي) توگه هېواد ته راغلي وي او گټه څینې اخیستل شوي وي، د هیواد د نافذه قوانینو مطابق قاچاق گڼل کېږي او په اړه یې د باصلاحیته شرعي محکمې د حکم په اساس فیصله کېږي.

۳- د زرهي وسایطو هغه مالکین چې وسایط یې د کرایه ورکولو جواز ونه لري ، که خپل وسایط په کرایه ورکړي نو قرارداد یې فسخه او جواز یې ملغی کېږي.

۴- د افغانستان د اسلامي امارت هېڅ اداره ، کورنی او بهرنی مؤسسې او تاجران نه شي کولای چې د دې کړنلارې خلاف ، د کورنیو چارو وزارت لخوا د مخکې موافقې پرته زرهي وسایطو او نورو زرهي توکو د واردولو او پېرلو قرارداد وکړي او یا یې په هېواد کې وپلوري .

**مادهٔ چهاردهم:**

۱. وسایط زرهی که بدون استیذان وزارت امور داخله وارد گردیده باشد و در جریان طی مراحل گمرکی باشد، شرکت های داخلی (یکصد هزار) افغانی و شرکت های واردات خارجی (دو صد هزار) افغانی را بخاطر بدست آوردن اسناد به حساب بانکی وزارت امورداخله تحویل نماید.

۲. آن عده وسایط زرهی که به صورت غیر قانونی ( یک کلید ) وارد کشور و مورد استفاده قرارگرفته باشد مطابق قوانین نافذه کشور قاچاق پنداشته شده، و به حکم محکمه شرعی فیصله صورت می گیرد.

۳- آن عده مالکین وسایط زرهی که وسایط شان مجاز برای کرایه دهی نباشد در صورت که وسایط را به کرایه دهند قرار دادشان فسخ و جواز آن ملغی میگردد.

٤- هیچ یک از ادارات امارت اسلامی افغانستان، مؤسسات داخلی و خارجی و تاجران ملی مغایر این طرزالعمل قبل از موافقه رسمی وزارت امور داخله نمی‌توانند به عقد قرارداد، تورید و فروش وسایط، وسایل و تجهیرات زرهی مبادرت ورزند ویا وسایط مذکور را درقلمرو کشور به فروش برسانند.

## د زرهي وسايطو کنترول

**پنځلسمه مادهٔ :**

د کشفي ادارو، امنيتي، سرحدي او د ترافيکو منسوبين د دې کړنلارې او د لويو لارو د ترافيکو د قانون پر بنسټ د زرهي ايمني وسايطو کنترول په غاړه لري .

## په سرحدونو کې د زرهي تجهيزاتو د قاچاق کنترول

**شپاړسمه مادهٔ :**

سرحدي پوليس د جرايمو پر وړاندې د کشف او مبارزې عمومي رياست د موافقې د نشتوالي په صورت کې د ځمکې او هوا له لارې د زرهي وسايطو ، عينياتو او تجهيزاتو د داخلولو او خارجېدلو مخنيوی او کنترول په غاړه لري .

## د ترافيکو د ادارې مکلفيتونه

**اوولسمه مادهٔ :**

۱- د ترافيکو رياست مکلف دی چې د جرايمو د کشف او مبارزې د عمومي رياست او نورو اړوندو کشفي او اطلاعاتي ارگانونو سره په همکارۍ د زرهي ايمني وسايطو معلوماتي ارشيف تکميل او د اړتيا پر مهال يې د نورو ادارو په غوښتنه د هغوی په واک کې ورکړي.

۲- د ترافيکو مسؤلين مکلف دي چې د زرهي او ايمني وسايطو د گرځېدلو، جوازونو د اسنادو د طی مراحل کولو او تمدېدولو پر مهال، د دې کړنلارې مطابق او ترافيکي او ايمني گواښونو ته په کتلو سره خپل کنترول او څارنه وکړي .

## کنترول وسايط زرهی

**مادهٔ پانزدهم:**

منسوبين ادارات کشفی، امنيتی، سرحدی وترافيک طبق احکام اين طرزالعمل و قانون ترافيک جاده مؤظف به کنترول وسايط زرهی ايمنی می‌باشند.

## کنترول سرحدات بمنظورجلوگيری از قاچاق تجهيزات زرهی

**مادهٔ شانزدهم:**

پوليس سرحدی مکلف به کنترول و ممانعت از ورود و خروج وسايط، عينيات و تجهيزات زرهی بدون موافقه رياست عمومی کشف مبارزه با جرايم در محلات عبور کنترول زمينی و هوايی می‌باشد.

## مکلفيت ادارهٔ ترافيک

**مادهٔ هفدهم:**

۱. رياست ترافيک مکلف است در همکاری با رياست عمومی کشف و مبارزه با جرايم و ساير ارگان های کشفی و اطلاعاتی آرشيف معلوماتی تمامی وسايط زرهی ايمنی را تکميل؛ و در اثنای ضرورت نظر به تقاضای ادارات معلومات لازم را در اختيار شان قرار دهد.

۲. مسؤولين ترافيک در جريان سير و حرکت، طی مراحل، تجديد اسناد و جواز سير وسايط زرهی ايمنی را مطابق رهنمود اين طرز العمل و چالش های ايمنی و ترافيکی نظارت و کنترول نمايند.

۳- د ترافيکو رياست مکلف دی چې د زرهي وسايطو د جواز رنګ ، د نورو وسايطو د جوازونو د رنګ څخه جلا په سور رنګ کې چاپ او توزيع کړي تر څو د نورو وسايطو سره يې توپير اسان شي . د دې وسايطو د سرغړونو شمېر او ډول بايد د ډريوري د لايسنس د تخلف په مل ورقه او د ګرځيدلو په جواز کې درج او وارزول شي .

۴- د ترافيکو رياست دنده لري چې د زرهي واسطې د تخنيکي معاينې پر مهال په واسطه کې د (جي پي اس GPS) آلې شتون کنترول کړي.

## د ګټې اخيستونکو مسؤوليتونه

**اتلسمه مادهٔ :**

۱- د زرهي واسطې څښتن نه شي کولای چې راتلونکو مسؤوليتونو ته په کتلو سره د کورنيو چارو وزارت له اجازې پرته زرهي واسطه خرڅه او يا په کرايه ورکړي .

۲- د زرهي وسايطو او تجهيزاتو د مونتاژ (بسته بندی) او توليدي شرکتونه ، زرهي توکي او وسايط ، د کورنيو چارو وزارت د موافقې او نافذه قوانينو مطابق واردوي .

۳- د زرهي ايمني وسايطو شرکتونه او خاوندان بايد د وسايطو په خرڅلاو او کرايه ورکولو کې د کورنيو چارو وزارت د امنيتي او وقايوي پلانونو څخه په جدي توګه متابعت وکړي .

۳. رياست ترافيک مکلف است، تا شکل و رنگ جواز سير وسايط زرهی را به رنگ مشخص سرخ چاپ و توزيع نمايد؛ تا از ساير وسايط عادی قابل تفکيک باشد. تعداد و نحوه ای تخلفات اين وسايط را به ورقه جدول تخلفات منضمه لايسنس رانندگی و جواز سير واسطه درج و ارزيابی نمايد.

۴. رياست ترافيک مکلف به کنترول از نصب آله (جی پی اس GPS) در وسايط زرهی حين معاينه تخنيکی می‌باشد.

## مسؤوليت های استفاده کنندگان

**مادۀ هجدهم:**

۱. مالک واسطه زرهی، با قبول مسؤوليت آينده بدون استيذان وزارت امور داخله، وسايط زرهی مربوط خويش را نمی‌تواند به فروش ويا به کرايه دهد.

۲. شرکت های مونتاژ (بسته بندی) و توليد کننده وسايط و تجهيزات زرهی با توافق وزارت امور داخله محصولات خود را طبق قوانين نافذه وارد نمايند.

۳. شرکت ها و مالکين وسايط زرهی ايمنی در مورد کرايه دادن و فروش وسايط زرهی خويش از دساتير و پلان های تدابيری امنيتی وقايوی وزارت امور داخله جداً پيروی نمايند.

۴- د زرهي ایمني وسایطو ډریوران مکلف دي چې د دې وسایطو تخنیکي ارزښت ته په کتلو سره د ترافیکو د جادې قوانینو، امنیتي تدابیرو کنترول او نورو نافذه قوانینو بشپړ رعایت وکړي، د سرغړونو په صورت کې د قوانینو او مقرراتو په وړاندې مسؤل ګڼل کېږي . همدا راز مکلف دي چې د امنیت او نظم د ساتلو لپاره احتیاط وکړي.

۵- د ایمني زرهي واسطې څښتن او ډرېور مکلف دی چې د دې کړنلارې د حکمونو سره سم د خپلې واسطې څخه استفاده او ساتنه وکړي تر څو د واسطې څخه نور خلک ناوړه ګټه وانه اخلي .

٦- د زرهي واسطې څښتن او ډریور نه شي کولای چې د خپلې واسطې د جواز څخه د بل چا د بې جوازه واسطې د ګرځولو لپاره استفاده وکړي .

## د زرهي وسایطو د ګرځولو موخې

**نولسمه مادهٔ :**

د زرهي واسطې د جواز د معلومو هدفونو پرته ، د نورو نامشروع کړنو لپاره د زرهې واسطې څخه استفاده کول سرغړونه ګڼل کېږي او د واسطې د جواز د سلبېدلو او د هغې د څښتن یا درلودونکي د عدلي تعقیب لامل ګرځي .

۴. رانندگان وسایط زرهی ایمنی با در نظر داشت اهمیت و مصئونیت تخنیکی وسایط خویش مکلف به پیروی از قانون ترافیک جاده، کنترول تدابیر امنیتی و سایر قوانین نافذه بوده و نسبت به نحوی تخلفات خود در برابر قانون و سایر مقررات مسؤول پنداشته شده و مکلف به رعایت احتیاط حفظ حقوق نظم و امن عامه می‌باشند.

۵. مالک و راننده ی واسطه زرهی ایمنی مکلف به رعایت مطالبات مندرج این طرزالعمل بوده و از نحو استفاده، محافظت و نگهداری واسطه زرهی خویش مسؤولیت دارند، تا افراد غیر از واسطه استفاده سوء ننمایند.

٦. مالک و راننده با استفاده از جواز گشت واسطه زرهی خویش نمی‌تواند واسطه زرهی شخص دیگری را که فاقد جواز گشت بوده مورد استفاده و رانندگی قرار دهند.

## مقاصد استفاده وسایط زرهی

**مادۀ نزدهم:**

استفاده از وسایط زرهی ایمنی به غیر از مقاصد مشروع که بر مبنای آن برایش جواز داده شده تخلف پنداشته شده موجب سلب جواز و تعقیب عدلی مالک و متصرف آن می‌گردد.

## د زرهي واسطې د کارت ورکېدل او ویجاړېدل

**شلمه مادۀ:**

د ایمنـي زرهـي واسـطې درلـودونکي بایـد د واسطې د ګرځېدلو مجوز کارت ، جواز سیر او پلیټ د سوزېدلو ، تخریبېدلو ، ورکېدلو او یا لـه منځه تللو پر مهال د ځنډ پرتـه حـد اکـثر یـوې اونۍ په اوږدو کې پولیسو ته اطلاع ورکړي .

که د واسطې د ګرځېدلو مجوز کارت د مالک یا واسـطې درلـودونکي د غفلـت لـه املـه ورک ، تخریب او یا له منځه تللی وي نو د مقنع اسنادو او کره شواهدو د وړاندې کولو په صورت کې د اړونـدې ادارې لخوا د حق الامتیـاز پرتـه مثنی جواز ورکول کېږي.

## د تضمین وړاندې کول

**یو ویشتمه مادۀ :**

۱- د زرهي وسایطو څخه د اسلامي امارت ضـد فعالیتونو ، سازماني جرمونو او نـورو نـاوړو ګټـو اخیستلو د مخنیوي لپاره باید د ترافیکو ریاسـت د جواز د غوښتونکي څخـه د مونـدلو وړ معتبر تضمین واخلي .

۲- د افغانســتان د اســلامي امــارت ادارې ، دیپلوماتیکې مراجع او نړیوالې خیریه مؤسسـې ، د څرګنـد ادرس درلودلـو لـه کبلـه، د تضـمین ورکولو څخه مستثنی دي .

## مفقودی و تخریب کارت وسایط زرهی

**مادۀ بیستم:**

دارندگان وسایط زرهی ایمنی که کـارت مجـوز گردش، جواز سیر، پلیـت واسـطه شـان حریـق، تخریـب، مفقـود و یـا بـه نحـوی از بـین میـرود مکلف اند، بدون ضیاع وقت حداکثر بـه مـدت (یک هفته) به پولیس محل اطلاع دهند. کـارت مجوز گردش وسایط زرهی در صورتیکه به اثـر غفلت و بی توجهی مالک و متصـرف مفقـود، تلف و تخریب گـردد بعـد از ارائـه اسناد مقنع وشـواهد ثقـه از ادارۀ مربـوط در مقابـل، مثنـی مجوز بدون حق الامتیاز مجدداً داده میشود.

## ارائه تضمین

**مادۀ بیست و یکم:**

۱. به منظور جلوگیری استفاده از وسـایط زرهـی در ارتکاب اعمال تخریبی، جرایم سازمان یافتـه و سایر جرایم تضمین معتبر قابل دریافت توسط ریاست ترافیک اخذ گردد.

۲. ادارات امـارت اسـلامی افغانسـتان، مراجـع دیپلوماتیک و مؤسسات خیریه بین المللی بنـابر داشـتن آدرس قابـل دریافـت از ارائـه تضـمین مستثنی می باشند.

## دریم څپرکی

### د زرهي وسایطو کرایه ورکوونکي شرکتونه

**د زرهي وسایطو کرایه ورکوونکو خدماتي شرکتونو رامنځته کېدل**

**دوه ویشتمه مادهٔ :**

د تجارتي جوازونو لرونکي پانګوال (سرمایه ګذاران) کولای شي چې د لاندې شرایطو په رڼا کې د زرهي وسایطو کرایه ورکوونکي خدماتي شرکتونه رامنځته کړي :

۱- د جوازغوښتونکي د خدمتونو وړاندې کولو د ډول پروپوزل او غوښتنلیک د کورنیو چارو وزارت ته وړاندې کوي .

۲- د غوښتونکو عریضې د جرایمو د کشف او مبارزې د عمومي ریاست د مربوطه ادارې له لوري تر غور او څېړنې لاندې نیول کېږي او په هکله یې د مربوطو ادارو څخه د عارض د جرمي او تجارتي سوابقو په هکله معلومات تر لاسه کېږي .

۳- د تضمین (امانت) په توګه د افغانستان بانک ته د لس میلیونو افغانیو تحویلول .

۴- کورنیو چارو وزارت د جرمونو سره د کشف او مبارزې عمومي ریاست ته د شرکت د منظمو اداري تشکیلاتو ورپېژندل .

۵- په ښار کې د شرکت لخوا د وسایطو لپاره د امنیتي تمځای برابرول .

## فصل سوم

### شرکت های خدمات کرایه دهی وسایط زرهی

**ایجاد شرکت های عرضه خدمات کرایه دهی وسایط زرهی**

**مادهٔ بیست و دوم:**

سرمایه گذاران دارای جواز تجارتی، تحت شرایط ذیل میتوانند شرکت های عرضه خدمات کرایه دهی وسایط زرهی را ایجاد نمایند:

۱-متقاضی درخواست خویشرا همراه با پروپوزل نحوه ای عرضه خدمات به مقام وزارت امور داخله ارائه میدارد؛

۲-عرایض متقاضیان توسط اداره مسؤول ریاست عمومی کشف مبارزه با جرایم تحت غور و بررسی قرار میگیرد که شامل معلومات سوابق جرمی، سوابق تجارتی و سایر معلومات از مراجع ذیربط میگردد.

۳-تحویل مبلغ ده میلیون افغانی منحیث تضمین (بطور امانت) بانکی، در دافغانستان بانک.

۴-معرفی تشکیلات منظم اداری شرکت به ریاست عمومی کشف و مبارزه با جرایم وزارت امور داخله.

۵-ایجاد محل مناسب پارکینگ وسایط در حومه ای شهر با تدابیر امنیتی توسط شرکت مربوطه.

۶- د زرهـي وسـايطو د ترميمولـو لپـاره د مجهـز ورکشاف درلودل .

۷- د ماليې وزارت د لايحې اومقرراتـو مطابق د ټولو ماليو اداء کول .

## د زرهي وسايطو د کرايه ورکوونکو شرکتونو د جوړولو حق الامتياز او شرطونه

**درويشتمه مادهٔ :**

۱- د زرهـي وسـايطو کرايـه ورکولـو شرکـت د جوړولو حق الامتياز پينځه لکـه افغانۍ دی او د فعاليت د جواز د تمديدولو فـيس يـې مبلغ دوه لکه افغانۍ دی .

۲- د حق الامتياز پيسـې د کورنيـو چـارو وزارت په قطعـي حسـاب کـې جمع کېږي او د بېرتـه ورکولو وړ نه دي .

۳- د زرهـي وسـايطو د کرايـه ورکولـو شرکـت د فعاليت د جـواز د اعتبـار مـوده يـو کـال ده او د فيس ورکولو څخه وروسته د تمديد وړ گرځي .

۴- شرکت بايد د شرکت د کـارکوونکو ، شرکـت د موقعيت او د شرکـت د نـوم د بـدلون سره هـم مهاله د کورنيو چارو وزارت د جنايي جرمونـو د کشـف او مبـارزې عمـومي رياسـت تـه اطـلاع ورکړي .

۵- د زرهي وسايطو کرايه ورکولو شرکت حق نـه لري چې په رسمي توگـه د کرايـه ورکولـو پرتـه زرهـي وسـايط د پارکينـگ څخـه وبـاسي .

۶-داشتن ورکشاپ مجهز ترميم وسايط زرهی.

۷-پرداخت تمام ماليات طبـق مقـررات و لايحه وزارت ماليه.

## حق الامتياز و شرايط ايجاد شرکت های عرضه خدمات کرايه دهی وسايط زرهی

**مادهٔ بيست و سوم:**

۱. حـق الامتيـاز ايجـاد شرکـت کرايـه دهـی (پنجصد هزار افغانی) بوده و فيس تمديد جواز فعاليت مبلغ (دوصد هزار افغانی) می باشد.

۲. پول پرداخـت شـده حـق الامتيـاز بـه حسـاب قطعـی وزارت امورداخلـه واريـز وقابـل اسـترداد نمی باشد.

۳. جواز شرکت های عرضه خدمات کرايه دهی وسـايط زرهـی بـرای يکسـال بـوده و بعـد از تحويلی فيس قابل تمديد می باشد.

٤. از تغيير و تبديل تشکيلات پرسونل شرکت، اسـم شرکـت و موقعيـت شرکـت عنـدالموقع بـه رياست عمومی کشف و مبارزه با جرايم وزارت امورداخله اطلاع دهد.

۵. شرکت عرضـه خـدمات کرايـه دهـی وسـايط زرهی، حق خروج وسايط زرهی را که بصـورت رسمی به کرايه نداده باشد، از پارکنگ ندارد.

٦- په رسمي توګه د زرهي وسایطو ورکولو او شرایطو درلودونکو افرادو او شرکتونو پرته د غیره اشخاصو لخوا په سرکونو کې د زرهي وسایطو تګ راتګ منع دی، د کنترول او پېژندلو پر مهال دغه ډول وسایط د پولیسو له لوري درول کېږي ، نیول کېږي ، د پولیسو اداري ته وړل کېږي او کاروونکي یې د قانوني پلټنو لاندې راځي .

٧- هېڅ شخص ، شرکت یا مؤسسه نه شي کولای چې د کرایې ورکولو له جواز پرته ، زرهي وسایط په کرایه ورکړي ، د سرغړونې په صورت کې یې جواز لغوه کېږي .

٨- ټول دولتي او غیر دولتي ادارې ، شرکتونه ، حکمي او حقیقي اشخاص ، داخلي او خارجي کمپنۍ او خارجي قراردادیان مکلف دي چې د خپلو اړتیاوو وړ وسایط یوازې د هغو شرکتونو څخه په کرایه ونیسي چې د کورنیو چارو وزارت له اړخه د کرایي خدمتونو د وړاندې کولو جواز ولري .

٩- د شرکتونو او وسایطو د تمځایونو امنیت د شرکت په غاړه دی ، شرکت کولای شي چې د نورو اقتصادي کمپنیو په څېر د اړوندو ادارو څخه خپل امنیتي کارکوونکي وګوماري .

٦. گشت وگذار واسطه زرهی بالای جاده عامه که رسماً به کرایه داده نشده باشد و یا در اختیار اشخاص و مؤسسات واجد شرایط مطابق این طرزالعمل نبوده باشد ممنوع بوده، حین کنترول و شناسایی واسطه شان از جانب پولیس متوقف و به ادارهٔ پولیس انتقال و متصرف آن تحت پیگرد قانونی قرار می‌گیرد.

٧. هیچ شرکت، مؤسسه و یا افراد که دارای مجوز عرضهٔ خدمات کرایه دهی وسایط زرهی نباشند، حق ندارند وسایط زرهی شان را خودسرانه به کرایه بدهند. در صورت تخلف جوازآن ملغی میگردد.

٨. تمام ادارات دولتی وغیر دولتی، شرکت ها، اشخاص حکمی و حقیقی، کمپنی های داخلی و خارجی و قراردادیان خارجی وسایط زرهی مورد نیاز خویش را، صرف از شرکت های که دارای مجوز عرضه خدمات کرایه دهی وسایط زرهی از وزارت امور داخله باشند، می توانند عقد قرارداد نمایند.

٩. تدابیر امنیتی شرکت و پارک وسایط آن از مکلفیت های خود شرکت بوده که می توانند مانند سایر کمپنی های اقتصادی از مراجع قانونی آن پرسونل امنیتی استخدام نمایند.

۱۰- د ايمني زرهـي وسـايطو کرايـه ورکـوونکي خدماتي شرکتونه مکلـف دي چې د پارکینګ ځخه د وسـايطو د وتلـو ننوتلـو ژورنـال داسـې ترتيب کـړي چې يکـې وخـت (شـپه / ورځ)، سـاعت او نېټـه ذکـر وي. دغـه کړنـې بايـد پـه راتلونکي کې په معاصرې تکنالوژۍ عيار شي .

۱۱- که وسايط د کرايې پر مهال عوارض وکـړي او يا د طبيعي يا غير طبيعي پيښو له امله لـه کـاره وغورځېږي نو شرکت مکلف دی چې د قرارداد سره سم بله واسطه د کرایه کوونکي په واک کې ورکړي .

۱۲- زرهي کرايه ورکوونکي خـدماتي شرکتونـه دنده لري چې په هرو دريو مياشتو کـې د خپلـو فعـاليتونو مفصـل راپـور د کورنيـو چـارو وزارت اړوندې اداري ته وړاندې کړي .

۱۳- کـه د زرهـي وسـايطو خـدماتي شرکـت پـه ټـاکلي وخـت کـې د خپلـو فعـاليتونو راپـور د کورنيـو چـارو وزارت د جرمونـو د کشـف او مبارزې عمومي رياست ته وړاندې نـه کـړي نـو مـذکور رياسـت واک لـري چـې د هغـوی د فعاليت جواز وځنډوي .

۱۴- کـه د زرهـي وسـايطو کرايـه ورکـوونکی خدماتي شرکت په مکـرره توګـه د دې مـادې د فقرو ځخه سرغړونه وکړي نو د فعاليت جواز يې لغو کېږي .

۱۰. شرکت عرضه خدمات کرایـه دهـی وسـایط زرهی ایمنی باید ژورنال ثبت و راجسـتر خـروج و دخـول بـا ذکـر سـاعت(روز/ شـب) و تـاریخ وسایط زرهی را از پارک شرکت مربوطه ترتیـب نموده و به مرور زمان تمام اجراآت شـان را بـا تکنالوژی معاصر عیار نماید.

۱۱. اگر وسایط در جریان کرایه عارضه دار مـی گردد و یا بنابر هر حوادث طبیعی و غیـر طبیعـی از فعالیت بازمی ماند شرکت طبق تعهد قـرارداد، واسـطه دیگـری را در اختیـار قـراردادی قـرار میدهد.

۱۲. شرکـت هـای عرضـه خـدمات کرایـه دهـی وسایط زرهـی مکلـف انـد کـه گـزارش فعالیـت خویش را در هر سه مـاه بـه صـورت مفصـل بـه ادارهٔ مربوطه وزارت امور داخله ارائهبدارند.

۱۳. شرکـت هـای عرضـه خـدمات کرایـه دهـی وسایط زرهی، هرگـاه گـزارش شـان را بـه وقـت معینـه بـه ریاسـت عمـومی کشـف و مبـارزه بـا جرایم وزارت امور داخله ارائه ننماینـد ریاسـت متذکره صلاحیت دارد کـه جـواز آن را متوقـف نماید.

۱۴. شرکـت هـای عرضـه خـدمات کرایـه دهـی وسایط زرهی هرگاه مکرراً از فقره های این مادهٔ تخلف ورزند جواز فعالیت شان لغو می گردد.

۱۵- د اړتیاپه صورت کې ،شرکتونه مکلف دي چې په ولایتونو کې خپلې خدماتي نماینده گی پرانېزي.

## د زرهي وسایطو ورکشاپونه

**څلور ویشتمه مادهٔ :**

خصوصي شرکتونه کولای شي چې د لاندې شرایطو سره سم د زرهي وسایطو د ترمیمولو ورکشاپونه جوړ کړي :

۱- د زرهي ایمني وسایطو ترمیمونکي شرکتونه د کورنیو چارو وزارت څخه جوازنامه لاسته راوړي ، د جوازنامې د محصول مبلغ د (سلو زرو) افغانیو په ورکولو مکلف دي . د مالیاتي حسابونو او نورو مکلفیتونو د تصفیې څخه وروسته یې جواز د (پنځوسو زرو )افغانیو کلنی فیس په مقابل کې تمدیدېږي .

۲- که د افغانستان اسلامي امارت د کورنیو چارو وزارت د جوازنامې پرته ، ورکشاپ د زرهي وسایطو په ترمیمولو لاس پورې کړي نو کړنه یې غیر قانوني ده او د سرغړونې په دې صورت کې د واسطې څښتن او د ورکشاپ مالک دواړو سره قانوني چلند کېږي .

۱۵ - درصورت ضرورت، شرکت ها مکلف اند تا در ولایات نیز نمایندگی های خدماتی خویش را ایجاد نماید.

## ورکشاپ های وسایط زرهی

**مادهٔ بیست و چهارم:**

شرکت های خصوصی میتوانند ورکشاپ های ترمیماتی وسایط زرهی را تحت شرایط ذیل ایجاد نمایند:

۱. ورکشاپ های ترمیماتی وسایط زرهی ایمنی که بعد از اخذ جواز از وزارت امور داخله ایجاد میگردد، مکلف به پرداخت مبلغ (یکصد هزار) افغانی محصول جواز نامه بوده و فعالیت بعدی شان بعد از تصفیه مالیاتی و وجایب در بدل پرداخت مبلغ (پنجاه هزار) افغانی فیس سالانه تمدید می گردد.

۲.درصورت که ورکشاپ ها بدون جواز فعالیت از وزارت امورداخله امارت اسلامی افغانستان به ترمیم وسایط زرهی مبادرت ورزند فعالیت انها غیر قانونی پنداشته شده و در صورت تخلف طرفین (متصرف واسطه زرهی و مسؤول ورکشاپ) با ایشان برخورد قانونی صورت میگیرد.

۳- د هېواد د صنعتي ودې، خصوصي سکتور د پیاوړتیا او اسلامي امارت د اقتصادي تقویې لپاره د زرهي وسایطو د مونتاژ (بسته بندۍ) او زرهي توکو لکه حفاظتي دروازو ، زرهي خولیو ، زرهي واسکټونو او نورو د تولیدولو فابریکو جوړولو د جوازنامې فیس مبلغ دوه لکه افغانۍ دی چې د مالیاتي حسابونو د تصفیې څخه وروسته د یو لک افغانیو کلني فیس ورکولو په مقابل کې تمدیدېږي .

۴- په هغه صورت کې چې کرایه ورکوونکي شرکتونه د زرهي وسایطو د کرایه ورکولو او مونتاژ(بسته بندۍ) دواړو لپاره د جواز غوښتنه وکړي نو د ۲۴مې مادې په لومړۍ فقره کې د راغلي فیس سربېره د دې مادې په درېمه فقره کې د ذکر شوي مبلغ ۵۰ سلنه فیس په ورکولو مکلف دی .

۵- د زرهي وسایطو د مونتاژ(بسته بندۍ) ، معاصرې تکنالوژۍ او ترمیمولو ورکشاپونو شرکتونه مکلف دي چې د دې ادارې سره ځانګړي پروتوکولونه او تعهدنامې ترسره کړي .

۶- د زرهي وسایطو او تجهیزاتو تولیدي شرکتونه نه شي کولای چې د کورنیو چارو او مالیې وزارتونو د اجازې او جواز پرته خپل زرهي وسایل غوښتونکو ته وړاندې کړي.

۳. به منظور صنعتی ساختن کشور، رشد سکتور خصوصی و تقویه بنیهٔ مالی امارت اسلامی افغانستان، مونتاژ (بسته بندی) و ایجاد فابریکه های وسایط زرهی و ساختن تجهیزات زرهی، دروازهٔ سکیوریتی، کلاه زرهی، واسکت زرهی و امثال آن مکلف به پرداخت دوصد هزار افغانی فیس جوازنامه بوده وفعالیت های بعدی شان بعد ازتصفیه مالیاتی دربدل یک صد هزار افغانی فیس سالانه تمدید می گردد.

٤ - درصورتیکه شرکت های کرایه دهی درخواست فعالیت کرایه دهی و مونتاژ (بسته بندی) وسایط زرهی را نماید، برعلاوه پرداخت فیس مندرجه فقره( اول ) و مادهٔ (٢٤) مکلف به پرداخت ۵۰% مبالغ درج فقرهٔ( ۳ ) همین مادهٔ می‌باشد.

۵. مسؤولین شرکت های مونتاژ (بسته بندی) وسایط زرهی، تکنالوژی معاصر و ورکشاپ های ترمیماتی وسایط زرهی مکلف به عقد پروتوکول و تعهد نامه جداگانه با این اداره می‌باشند.

٦. شرکت های تولیدی وسایط و تجهیزات زرهی نمی توانند محصولات تولیدی زرهی را بدون استیذان و مجوز وزرات امور داخله و وزارت مالیه به متقاضیان عرضه نمایند.

## خلورم څپرکی

### د نظـامي کـاروني وړ تکنـالوژۍ واردول، مونتاژ(بسته بندي) او ورڅخه ګټه اخیستنه

**پنځویشتمه مادهٔ :**

د نظامي او محاربوي کـاروني وړ تکنـالوژۍ د توکو ، تجهیزاتو او نورو وسـایلو واردول ، سـاتل او ورڅخه ګټه اخیستنه ممنوع دي او د ارزونـې او مربوطه مراجعو لـه نظـر اخیسـتلو پرتـه ورتـه جواز نه ورکول کېږي .

### د فعالیت جواز

**شپږویشتمه مادهٔ :**

د تکنالوژۍ د تجارتي جواز درلودونکي کولای شي چـې د کورنیـو چـارو د وزارت څخـه د تکنالوژۍ د واردولو او مونتاژ جواز واخلي .

۱- د تکنـالوژۍ وارداتي او مونتاژ(بسـته بنـدۍ) شرکتونه مکلف دي چې د کورنیو چارو وزارت وارداتي حسـاب تـه ( درې لکـه) افغـانۍ د حـق الامتیاز په توګه ورکړي .

۲- د نظـامي او امنیتـي کـاروني وړ معـاصر او پېچلو توکو او تجهیزاتو څخـه د ګټـې اخیسـتنې جواز لـه لاسته راوړلـو او د هـرو دوو کلونـو لـه تېرېـدلو وروسته د ( یـو لـک او پنځـوس زره) افغانیو فیس په مقابل کې تمدیدېږي.

## فصل چهارم

### فعالیت تورید، مونتاژ (بسته بندی) و استفاده تکنالوژی دارای کاربرد نظامی

**مادهٔ بیست و پنجم:**

توریـد، اسـتفاده، فـروش ونگهداشـت وسـایل، تجهیزات و تکنالوژی که دارای کار برد نظـامی، محـاربوی و سـایر وسـایل ممنوعـه بـوده باشـد، مجوز صادر نمی‌گردد، مگـر بعـد از ارزیـابی و اخذ نظریات مراجع مربوط .

### مجوز فعالیت

**مادهٔ بیست وششم:**

دارندگان جواز تجارتی می توانند مجوز فعالیت توریـد و مونتـاژ تکنـالوژی را از وزارت امـور داخله اخذ نمایند.

۱ . شرکـت توریـد ومونتـاژ ( بسـته بنـدی ) تکنالوژی مکلـف بـه پرداخـت مبلغ (سـه صـد هزار)افغـانی حـق الامتیـاز بـه حسـاب واردات وزارت امور داخله میباشد.

۲ . جواز استفاده از تجهیـزات وتخنیـک مغلق پیشرفته معاصر که کاربردنظامی وامنیتی دارد بعد از اخــذ جــواز توریــد در برابــر پرداخــت (یکصدپنجاه هزار) افغانی فیس تمدیـد بعـد از گذشت هر دوسال صادر می گردد.

۳- وارداتي تجارتي شرکت مکلف دی چې د توکو د واردولو څخه وروسته ، د هغوی ټولې ځانګړتیاوې اړونده شعبې ته وړاندې کړي.

۴- شرکت مکلف دی چې د جواز د اعتبار د مودې د پای ته رسېدلو څخه یوه میاشت تر مخه د جواز د تمدېدولو لپاره د کورنیو چارو وزارت ته مراجعه وکړي .

۵- د مالیاتو د تصفیې څخه وروسته جواز تمدیدېږي .

٦- که د جواز د اعتبار د مودې پر ختمېدلو یوه میاشت تېره شي نو د جرایمو د کشف او مبارزې د عمومي ریاست له لوري یې جواز لغوه کېږي .

## د تکنالوژۍ د جواز صادرونکې مرجع مکلفیتونه

**اوه ویشتمه مادهٔ :**

۱- د تکنالوژۍ واردوونکي شرکت دغوښتونکي ټول اسناد څېړي او ارزوي .

۲- هغه توکي چې شرکت یې واردوي ، مربوطه شعبه د هغوی په هکله د اړوندو مراجعو څخه معلومات ترلاسه کوي .

۳- د نظامي کارونې وړ تکنالوژۍ د واردولو لپاره جواز نه صادرېږي.

۴- د اړوندو مراجعو لخوا د ډاډ حاصلولو څخه وروسته د غوښتونکي له لوري د توکو د واردولو لپاره موافقه کوي .

۳ . شرکت تورید تجارتی مکلف است قبل از تورید تمام مشخصات اقلام را به شعبه مربوطه ارائه بدارد.

٤. شرکت ها مکلف اند یک ماه قبل از انقضای مدت اعتبار جواز شان به وزارت امور داخله مراجعه نمایند.

۵ . جواز بعد از تصفیه مالیاتی تمدید می گردد.

٦. هرگاه مدت یک ماه از ختم اعتبار جواز سپری گردد؛ جوازشان ازطرف ریاست عمومی کشف ومبارزه باجرایم ملغی میگردد.

## مکلفیت های مرجع صدور جواز تکنالوژی

**مادهٔ بیست وهفتم:**

۱-تمام اسناد متقاضی ایجاد شرکت تورید تکنالوژی را مورد ارزیابی قرار دهد.

۲-اقلام را که شرکت به تورید آن اقدام مینماید، شعبه مربوط از مراجع ذیربط معلومات حاصل نماید.

۳- برای تکنالوژی دارای کار بردنظامی جواز تورید صادر نمی گردد.

۴-جهت تورید اقلام متقاضی بعداز حصول اطمینان از مراجع مربوط موافقه تورید صادر میگردد.

## د زرهي وسایطو د وارداتي شرکتونو مکلفیتونه

**اته ویشتمه مادهٔ:**

۱- د مالیاتي چارو د تصفیې وړاندې کول .
۲- په مرکز او ولایتونو کې د شرکت دقیق ادرس.
۳- د رئیس او مرستیال پېژندنه .
۴- د وړانــدې شــویو خــدمتونو او قراردادونــو د راپورونو ورکول .
۵- پــه شرکــت کــې د هــر ډول راغلــو بــدلونونو د راپورونو وړاندې کول .
٦- د پانګونې د جواز وړاندې کول .
۷- که شرکت وغواړي چې خپل جواز لغوه کـړي او فعالیتونه ودروي نو کولای شي چې د کورنیو چـارو وزات ته خبر ورکړي او موافقه یـې ترلاسه کـړي او خپل اجناس په نورو جواز لرونکو شرکتونو وپلوري.

## سکتوري وزارتونه

**نه ویشتمه مادهٔ :**

ښـايي چـې سـکتوري وزارتونـه، ديپلومـاتيکې مراجع او نورې اړوندې اداري د امنیـت او عامـه نظم د ټینګښت په موخه په همغږو او ګډو هڅو سره د معاصر پېچلو زرهـي تجهیزاتـو او وسـایلو تکنالوژۍ د واردولو د قرارداد ترمخه ، لـومړی د داخلي او خارجي ادارو او مؤسسو لخوا د ذکـر شویو توکو د واردولو او ګټې اخیستنې هـدفونو غوښـتنلیکونه پـه دقیقـه مخکنیـې څېړلـو او د واردولو او ګټې اخیستنې د هدف په هکله د نظر څرګندولو څخه وروسته د کورنیو چـارو وزارت ته رسما راجع کړي .

## مکلفیت های شرکت تورید تکنالوژی

**مادهٔ بیست و هشتم:**

۱ . ارائه تصفیه امور مالیاتی
۲ . آدرس دقیق شرکت در مرکز وولایات.
۳ . شهرت رئیس ومعاون.
٤ . ارائه گزارشات عرضه خدمات وقراردادها.
۵ . ارائه گزارش از هرگونه تغییرات درشرکت.
٦ . ارائه جوازفعالیت سرمایه گذاری.
۷ . هرگـاه شرکـت خواسـتار لغوجـواز وقطـع فعالیـت باشـد، وزارت امـور داخلـه رادرجریـان قرارداده واجناس موجود را بعد از اخذ موافقه به شرکـت هـای دارای مجـوز بـه فـروش رسـانیده میتواند.

## وزارت های سکتوری

**مادهٔ بیست ونهم:**

وزارت هـای سـکتوری، مراجـع دیپلوماتیـک وادارات ذیـربط بمنظـور هماهنگـی وتشـریک مساعی درراستای نظم وامـن عامـه قبـل از عقـد قرارداد، توریـد آلات وسـایل تجهیـزات زرهـی مغلـق وانکشـاف یافتـه تخنیکـی وتکنـالوژی معـاصر بـه ارتبـاط تقاضـای ادارات مؤسسـات داخلـی وخـارجی درمـورد تقاضـای توریـد واستفاده از آلات و وسایل متذکره بررسی دقیق قبلی نمـوده بعـد از ابـراز نظـر تائیـدی پیرامـون هـدف توریـد واسـتفاده آن را بـه وزارت امـور داخله رسما ارجاع میدارد.

## د ماین پاکۍ مؤسسې

**دیرشمه مادهٔ :**

د ماین پاکۍ کورنۍ او بهرنۍ مؤسسې د خپلو زرهي توکو او عینیاتو د واردولوهدف ، د اړوندو ادارو ، د اقتصاد وزارت ، د بهرنیو چارو وزارت او پېښو سره د مبارزې د ادارې سره په همغږۍ ، د کورنیو چارو وزارت ته وړاندې کوي .

### پنځم څپرکی

## متفرقه حکمونه

### د نورو ادارو سره همغږي

**یو دیرشمه مادهٔ :**

د ایمني او زرهي وسایطو د چارو تنظیمول او کنترولول د کورنیو چارو وزارت مسؤولیت دی او د هېواد نور امنیتي او کشفي ارګانونه ، د ملي دفاع وزارت او استخباراتو عمومي ریاست ، د کورنیو چارو وزارت سره د دې کړنلارې د حکمونو په تطبیقولو کې مرسته او همغږي کوي.

## عامه پوهاوی

**دوه دیرشمه مادهٔ :**

۱- د کورنیو چارو وزارت د دې کړنلارې د احکامو د تطبیق په موخه د امنیتي ارګانونو سره د همکارۍ او عامه پوهاوي لپاره لازم تدبیرونه نیسي .

## مؤسسات ماین پاکی

**مادهٔ سی ام:**

موسسات ماین پاکی داخلی وخارجی نیازمندی های خویش را به مقصد تورید و استفاده از عینیات زرهی ومـاین پاکی باهماهنگی ادارات مربوط وزارت های اقتصاد، امور خارجه و اداره عمومی آمادگی مبارزه با حوادث به وزارت امور داخله ارائه میدارند.

### فصل پنجم

## احکام متفرقه

### هماهنگی با سایر ادارات

**مادهٔ سی و یکم:**

مسؤولیت کنترول و تنظیم امور مربوط به وسایط زرهی ایمنی مکلفیت وزارت امور داخله بوده، سایر ارگانهای دفاعی وکشفی کشور (وزارت دفاع ملی و ریاست عمومی استخبارات) در تطبیق احکام این طرزالعمل با وزارت امور داخله هماهنگی و همکاری می‌نمایند.

## آگاهی عامه

**مادهٔ سی و دوم:**

۱. وزارت امور داخله تدابیر لازم را جهت ایجاد همکاری با تمام ارگانهای امنیتی و آگاهی عامه، غرض تطبیق احکام این طرزالعمل اتخاذ نماید.

۲- د کورنیو چارو وزارت د دې کړنلارې یوه کاپي د مرستې او همغږۍ لپاره وزارتونو او خپلواکو ادارو او سکتوري بنسټونو ته رسماً استوي .

۳- د تجارت په موخه د یوې عرادې څخه د زیاتو زرهي وسایطو واردول یوازې د هغو شرکتونو لپاره مجاز دي چې وار له مخه یې د کورنیو چارو د وزارت څخه جواز ترلاسه کړی وي .

## نظامي پيچلي او پرمختللي توکي

**دري دیرشمه مادهٔ:**

د نظامي پرمختللو او پېچلو توکو (نظامي کاروني ورو اوبو لاندې لید دوربینونه، دشپې لید دوربینونه او پرمختللي مخابرې) واردول او مونتاژ د ملي دفاع وزارت د موافقې پرته ممنوع دي .

## منظوري

**خلوردیرشمه مادهٔ:**

د زرهي وسایطو د جوازونو د صادرولو دا کړنلاره ، د کورنیو چارو وزارت د مقام د هدایت پر اساس ، د اسلامي شریعت او د هېواد د نافذه قوانینو په رڼا کې، د پالیسۍ او ستراتېژۍ معینیت په لارښوونه او د جرایمو د کشف او مبارزې عمومي ریاست په همکارۍ، د گومارل شوي کاري ټیم لخوا ترتیب او د کورنیو چارو وزیر د منظورۍ څخه وروسته د اجراء وړ ده .

۲. وزارت امور داخله یک نقل از این طرزالعمل را به منظور هماهنگی و همکاری، رسماً به وزارت خانه ها و واحدهای مستقل اداری و سکتوری ارسال می نماید.

۳. تورید بیشتر از یک عراده واسطه زرهی به منظور تجارت صرف برای شرکت هایی مجاز می باشد که جواز وزارت امور داخله را قبلا حاصل نموده باشند.

## عینیات مغلق و پیشرفته نظامی

**مادهٔ سی وسوم:**

تورید و مونتاژ عینیات مغلق و پیشرفته نظامی (دوربین های زیر آبی دوربین های شب بین و آلات مخابره پیشرفته که کاربرد نظامی دارند) بدون استیذان وموافقه وزارت دفاع ملی ممنوع می باشد.

## منظوری

**مادهٔ سی وچهارم:**

طرزالعمل صدور جواز وسایط زرهی طبق هدایت مقام وزارت امور داخله در پرتو قوانین نافذه کشور تحت رهنمایی ریاست عمومی کشف ومبارزه با جرایم توسط گروپ کاری تدوین گردیده بعد از منظوری وزیر امور داخله مرعي الاجرا می باشد.

## اړیکې او خپرېدل

**پنځه دیرشمه مادهٔ :**

دا کـړنلاره د کورنیـو چـارو وزارت د مقـام لـه منظـورۍ څخـه وروسـته د جرایمـو د کشـف او مبارزې عمومي ریاست تـه تکثیریـږي او همـدا راز د پـــلان او پالیســـۍ د عمـــومي ریاســـت د ډیټابیس د مدیریت لخوا په شیرپاینټ کې پـه لاندې ادرس خپرېږي .

http://sharepoint

## کنترول او څارنه

**شپږ دیرشمه مادهٔ :**

د دې کـړنلارې د تطبیـق کنترولـول د جرایمـو د کشف او مبارزې عمومي ریاست پـه غـاړه ده او د دې کړنلارې تطبیق څارنـه او ارزونـه یـې د د څارنې او ارزونې ریاست دپالیسی او اسـتراتېژۍ معینیت په غاړه ده.

## لوستل او بیاکتنه

**اوه دیرشمه مادهٔ :**

دا کړنلاره هر کال د بیاکتنې وړ ده ، مسؤلین یـې د لازیات ښه والي او بډاینې لپاره خپـل نظرونـه او پیشنهادونه وړاندې کولای شي.

## نشر و ارتباطات

**مادهٔ سی وپنجم:**

این طرزالعمل بعد از منظوری مقام وزارت امـور داخلـه بـه ریاسـت عمـومی کشـف و مبـارزه بـا جـرایم تکثیـر گردیـده و نیـز در شـیر پاینـت مدیریت عمومی دیتابیس ریاست عمومی پـلان وپالیسی و به آدرس ذیل نشر می گردد.

http://sharepoint

## کنترول و نظارت

**مادهٔ سی و ششم:**

کنترول از تطبیق طرزالعمل هذا به دوش ریاست عمومی مبارزه با جرایم بوده، نظارت و ارزیـابی از تطبیـق ایـن طرزالعمـل بـه عهـده ی ریاسـت عمـومی نظـارت و ارزیـابی معینیـت پالیسـی و استراتیژی می باشد .

## مرور و بازنگری

**مادهٔ سی وهفتم:**

این طرز العمل همه ساله مطابق نیازمنـدی قابـل مرور بوده مسؤولین امور نظریات و پیشـنهادات خویش را در جهت بهبـود و غنامنـدی آن ابـراز نمایند

**یادونه:**

- پرعوایدو مالیات د مالیې وزارت د قانون مطابق اخیستل کېږي .

- راټولې شوې پیسې د افغانستان د اسلامي امارت وارداتي بانکي حساب ته د تعرفې پر اساس تحویلېږي .

**نوت:**

- مالیات برعایدات مطابق به قانون از طرف وزارت مالیه اخذ میگردد.

- پول جمع آوری شده به حساب واردات امارت اسلامی دافغانستان بانک به اساس ارائه تعرفه تحویل داده می شود

و من الله التوفیق

مفتي محمد طیب حقاني
د پالیسیو رئیس

مفتي فضل هادي سالک
د پلان او پالیسی عمومي رئیس